# د ډاکټر شېر زمان سيماب په افسانوي مجموعه"امېل" کښې حقيقت نګاري

(Realism in ‘Amail’, a short story collection by Dr Sher Zaman Semaab)

Dr. Atta ur Rahman Atta*

attaurrahman@jc.edu.pk

03479109714

**ABSTRACT:**

**Realism, a dynamic and vibrant movement of universal import, has influenced all human creative endeavors, both ancient and contemporary. Like other fields, the same movement has left an indelible impact on literature and literary genres. Pashto literature could not escape the same impact which is evident in all its forms. The impact of Realism on Pashto short story, unlike other literary forms, is much deeper. With the passing of time, the influence has been deepening on the form. ‘Amail’ a debut book of short stories by Dr Sher Zaman Semaab, is marked with the same influence of realism. The current research paper objectively investigates realism in the same book.**

**Keywords: Realism, Pashto short story, genres, *Amail*, Pashto Literature, Sher Zaman Semaab**

ښاغلے ډاکټر شېرزمان سيماب د فرورۍ په لسمه نېټه په کال 1974 کښې د محترم ګل محمد صبب کره په تانړه مالاکنډ کښې زېږېدلے دے، ورومبنۍ زدۀ کړې ئې په خپل کلي تانړه کښې تر سر کړې دي ، لسم جومات ئې د ګورنمنټ هائي سکول نمبر 2 تانړې نه پاس کړے دے، دولسم او څوارلسم ئې د ګورنمنټ ډګري کالج تانړې نه پاس کړي دي.د ايم اے،ايم فل او پي ايچ ډي زده کړه ئې د پېښور پوهنتون نه سرته رسولي دي. نن سبا د اسسټنټ پروفېسر په حېث پېښور پوهنتون پښتو اکېډمۍ کښې خپله ذمه واري سرته رسوي.

د ښاغلي ډاکټر شېرزمان سيماب په مختلفو موضوعاتو چاپ شوي کتابونه دا دي:

" د دار په سر (شاعري) سهرې (تاليف) د باچاخان نثر نګاري د پوهانو په نظر کښې (تحقيق) زماد شوق لېونتوب (شاعري) د باچا خان د پښتو نثر ليکونو تحقيقي او تنقيدي

*اسسټنټ پروفېسر پښتو څانګه جهانزېب کالج سوات

مطالعه (پي ایچ ډي مقاله ) له پېښوره تر سپین غره (رپورتاژ)، پروفېسر نواز طائر،یوه مطالعه (تحقیق او تنقید) د مهورې په لمن کښې (رپورتاژ) محمد رسول الله ( نعتیه شاعري) غزل غزل مابښام(تالیف )، "امبل" (افسانوي مجموعه) په مالاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ( د ایم فل مقاله)، اود سوات تاریخي،جغرافیائي او ثقافتي اهمیت،(تحقیق) د ښاغلي ډاکټر صېب په ناچاپ اثارو کښې "وجدان" ( شاعري ) ډاکټر راج ولي شاه خټک،ژوند،فن او شخصیت ،،د پښتو متل هنداره (تحقیق) د ذکر وړ دي . د دې تر څنګ ډاکټر صېب د خپل ادبي فعالیت په سوب د پښتو ادبي حلقې متاثره کړې دي .ګڼ شمېر ادبي او تحقیقي مضمونونه ئې په بیلا بیله وختونو کښې په معیاري تحقیقي جرنلو کښې منظر عام ته راغلي دي . ډاکټر شېرزمان سیماب د یو زیرک محقق ،صاحب طرز شاعر، پوهه نثر نګار ،مثالي منتظم، خواخوږې استاذ دے.

ښاغلي ډاکټر صېب د خپلو ادبي خدماتو په وجه ډېر ګڼ ادبي ایوارډونه او سندونه تر لاسه کړي دي مخکښې د دې نه چې د ډاکټر شېرزمان سیماب صېب په افسانوي مجموعه کښې په حقیقت نګارۍ بحث اوشي دا ضروري ده چې د حقیقت نګارۍ مفهوم او اهمیت په ډاګه کړے شي.

د حقیقت نګارۍ لپاره د انګریزۍ ژبې لفظ(realism)کارولے کېږي. دغه مرکب لفظ د دوؤ کلمو " real"او " ism" نه جوړ دے. د انګریزۍ ژبې مشهور لغت ( Oxford Dictionary )کښې د دغه لفظ تعریف څۀ په دې ډول ورکړے شوے دے

**1: - "Realism scholastic doctrine that universal or general ideas have objective existence, belief that matter as object of perception has real existence".**

**2: - Practice of regarding thinks in their true nature and dealing with them as they are fiddity of representation rendering precise details of real thing or sconce. (Realist) noun realistic (Ad) realistically (adv.)" (۱)**

دغه شان په "The Cambridge Encyclopedia" کښې د لفظ "realism" تعریف داسې ورکړے شوے دے

په "The Encyclopedia Britannica" کښې د حقیقت نګارۍ تعریف داسې لیکلې شوې دې

> **"Understood in its broadest philosophical sense, realism can note any viewpoint that accords to the objects of man's knowledge in existence that is independent of whether he is perceiving or thinking about them. Though it may seem strange to the unphilosophical layman that the independent existence of objects "out there" should be questioned, the philosopher, faced with many preformed challenges that idealist have posed against the independence of objects, knows that the problem is far from trivial" (2)**

په کشاف تنقیدي اصطلاحات ، ، کښې د حقیقت نګارۍ تعریف داسې ورکړې شوې دې

> "ادب میں اشیاء، اشخاص اور واقعات کو کسی قسم کے تعصب، عنیت اور رومانیت سے آلودہ کئے بغیر دیانت و صداقت کے ساتھ پیش کرنے کی کوشش حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کہلاتی ہے باالفاظ دیگر حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کے معنٰی ہیں خارجی حقایق (مثلاً سماجی زندگی اور اس کے مسائل کو حتی المقدور معروضیت کے ساتھ پیش کرنا، کسی خیالی یا مثالی دنیا کی بجائے ہست کی تصویر کشی، حقیقت پسند ادب تخیل پر امر واقعہ کو ترجیح دیتا ہے۔ ماضی کی بجائے حال کے مسائل اور معاملات کو اہم جانتا ہے چونکہ زندگی کی موضوعی تصویر کشی اس کا مقصود ہے، اس لیے وہ اپنی ذات کو ادب پارے میں نمایاں کرنے سے اجتناب کرتا ہے۔ وہ زندگی کے ایسے کراہت انگیز کوائف و مظاہر کو بھی موضوع بناتا ہے جن کا وجود مسّلم ہوتا ہے۔ مگر "نفاست پسند" ادیب انہیں قابل اعتنا نہیں جانتے، وہ زندگی کو رنگیں شیشوں میں سے دیکھنے کی بجائے اپنی ننگی آنکھ سے دیکھتا ہے اور اس کی کوشش ہوتی ہے کہ اسے جوں کا توں پیں کر دے"(۳)

پخپله د ''حقیقت' توری پۀ بیلا بیله وختونو کښې په بیلا بیله معنو کښې پکار شوې دې. په یونان کښې د افلاطون د مکتبه فکر دا خیال ؤ چې په معروض کښې موجود څیزونه حقیقت نۀ لري .د هغوي پۀ نزد د څیزونو حقیقت د څیزونو سره نۀ د هغوې د عین سره دې. افلاطون په دې عقیده ؤچې عالم وجود فقط داعیانو عکس دې. په معروض کښې موجود څیزونه نه چې هر وخت د بدلون سره مخ دی حقیقت نه شي کېدې. د حقیقت د پاره یو شان والې

پکار دے. هغوي چې د حقیقت کوم تصور وړاندې کړو نو د هغې تر مخه حقیقت پۀ وجود کښې نۀ بلکې د څیزونو په خیال کښې وي. په نورو ټکو کښې داسې وئیلے شو چې د افلاطون پۀ خیال حقیقت هم هغۀ دے کوم چې عین دے.

په ادب کښې حقیقت ته د رسیدو غوښتنه هم د ټولو نه اول افلاطون کړې وه. خواوشا د حقیقت هم دغه تصور د مینځنۍ زمانې پورې هم دغه شان پاتے شو او حقیقت د الله تعالی سره اوتړلے شو مطلب دا چې اصلي حقیقت د الله تعالی ذات او عالم وجو د هغه ذات عکس دے. د یورپ د نشاۀ ثانیه نه وروستو په یورپ کښې د حقیقت تصورات بدل شوي رابدل شوي دي چې لوئے سوبونه ئې سائنسي او فلسفیانه نظرئې پاتې شوي دي. هم دغه نظرئي وې چې د حقیقت تصورات ئې د خپل ځان سره سمول او ورانول.

په پخوانو دورونو کښې ادب، بت تراشي، مجسمه سازي، موسیقي او د ودانۍ هنرونه ټول په ټوله د با اثره طبقې د خلقو په قبضه کښې وو او د دغۀ دورنو هنرمندانو به دغه یواځینۍ وظیفه تر سره کوله چې د با اثره طبقو واکمني او د محکومو طبقو د کمزورۍ او کمترۍ احساس په ځائے، تازه او ژوندے اوساتي. په دې هڅو چا فکر نۀ کوو چې د غریب او کمزوري اولس په ژوند کښې څۀ خوبي او ښه څیزونه راپیدا کیدے شي. په دغه دورونو کښې چې دنیا ته د فن او ادب په لړ کښې څۀ هم تر لاسه شوي دي زیات تره د حقیقت نه لري د وهمونو پیداوار ښکاري، چې پکښې د فرښتو، شیطانونو، خدایانو او ولیانو نمائندګي تر لاسه کیږي.خو د انسانانو نۀ.

دغه لړۍ د دنیا د ادبیاتو په اولنودورونو کښې هم مونږ ته ددیوانو، د جادو د زور، د ښاپیرو او بلاګانو په صورت کښې په نظر راځي او دغه کردارونه هغه څه کوي چې دانسان او انسانیت د وسه ډېر لري او ډېراوچت وي. د نني دور انسان دغه ډول قیصې نۀ خوښوي او نۀ پرې یقین لري. اګر چې نن هم انسان ته دروغ ښۀ لګی خو فقط تر دې حده چې هغه ته پته وي چې دا رښتیا نۀ دی خو ورسره دا احساس هم ملګرے وی چې دا دروغ هم نۀ شي کیدے. د ننی دور انسان ته د داسې قیصو ضرورت دے چې کم نۀ کن نیم ریښتیا وي. په دغه اړۀ نیاز فتح پوري لیکي

"دنیااب اخلاق کے مواعظ سے تنگ آچکی ہے اور اب آسے حقائق کی ضرورت ہے آب وہ گوشت پوست کی انسانوں کی بات کرناچاہتی ہے وہ زندگی کے حسن کو دیکھناچاہتی ہے اور اس کے عیب کو بھی"(۴)

د ۱۷۹۰د فرانس د انقلاب سره هم انسان د ژوند د حقیقتونو سره بلد شو ځکه چې د اذادۍ، وروروليۍ او برابرۍ نعره اولګېده. د برابرۍ نه مطلب فقط جسماني او مالي برابري نۀ وه بلکې مطلب ئې هر اړخېزه برابري وه او هم دغه نعره وه چې د انساني ددرجه بندۍ په ضد وه.

د شلمې صدۍ نه مخکښې د حقیقت نګارۍ په ارتقاء کښې نور محرکات هم شامل وو چې پکښې د کانټ او هیګل نظریات هم د بنیادي کردار حامل وو.

د کانټ په نزد د مخلوق د زېږون نه د فطرت مقصد دا دے چې د دوي وجود دې پاتې شي او د دوي صلاحیتونه دې کمال ته اورسي. د فطرت دغه بدلون داخلي وي خارجي نۀ وي. فطرت وانېۀ د دې لپاره نه دي پېدا کړي چې غوا ئې اوخوری یا غوا دې انسان اوخوري بلکې وانېۀ د دې لپاره پېدا دي چې وانېۀ پکار ي. هغۀ په دې داسې رڼا اچوي.

"انسان کا جوہر جو اس کی عقل و فہم اور ادراک ہے، فطرت نے انسان کو اس لئے پیدا کیا ہے کہ وہ عقل و فہم کا پابند رہے۔ عقل و فہم اور ادراک کی یہ خصوصیت ھے کہ وہ انسانی زندگی میں تکمیل کو نہیں پہنچتی۔ مثالاً ایک ادمی تمام علم ریاضی تخلیق نہیں کر سکتا بلکی وہ اس علم سے فائدہ اٹھاتا ہے جو اس سے پہلے لوگ چھوڑ گئے ہیں اس لئے انسانی عقل و فہم کا نشوونما انفرادی زندگی میں نہیں بلکہ تاریخی عمل میں پوراہو تا ہے۔ انسان چونکہ عقل و فہم کا مالک ہے اس لیے اس کی صلاحیتیں بروئے کارلانے کے لئے تاریخی عمل ضروری ہے یہ تاریخی عمل ادراک کو ترقی دیتا ہے اس لئے انسانی تاریخ عقل و فہم وادراک کی تاریخ ہے"(۵)

د دې نه پرته په دغه اړۀ د اول او دویم نړیوال جنګ د مېنځ زمانه ډېر ارزښت لري. وړومبي نړیوال جنګ د ژوند زوړ نظام او بنیادونه اولړزول. یو شمېر مرضونو، قحطونو، لوږو، تندو او ستونزو سر راپورته کړو او د غبرګون په طور چې کوم تحریکونه مخې ته راغلل په هغوي کښې ځېلي انساني اړخ ته زیاته پاملرنه شوي وه. دا هغۀ دور دے چې سائنس دانسان

کائنات ته نوې رنګ ورکوي. اوس پاخه حقیقتونه دامکانونو رنګ اخلي. د ائن سټائن نظریات د نیوټن په قوانینو ګزار کوي او دغه شان د فرائډ د لا شعور او جنس نظریه هم لړه کمروزې کېږي. د دغه دواړو جنګونو په سوب د انسان په عقل پرستۍ او انسانیت باور کمزورے کېږي. د صنعتي دور پېل کېږي چې په اوله کښې یوه مبهمه او کړکېچنه ټولنه مخې ته راځي. اوس د سوب او عمل نوې رشتې لټولے کېږي او دا عقیده مخې ته راځي چې د یو عمل یوه وجه او سوب نۀ وي. دغه شان یو ګران اوهر اړخیز تصور مخې ته راځي. اوس د لیکوال لپاره د خپلې ټولنې بلکل ساده تصویر جوړول پورۀ نۀ دي ځکه چې اوس هغۀ ته پته ده چې د حقیقت صرف ښکارۀ مخ نۀ دے بلکې حقیقت په څو پردو کښې پټ دے چې د لټون د پاره به ئې دغه پردې د هغۀ د مخ نه پورته کول وي.

د څو نورو فلسفیانه او ادبي تحریکونو په رنګ د حقیقت نګارۍ پېل هم د فرانس نه شوے دے او په عمومي توګه دغه باورکېږي چې د فرانس د انقلاب نه ورستو حقیقت نګارۍ د باقاعده مکتبه فکر صورت موندلے دے. پۀ نفسیاتو کښې د فرایډ نظریاتو په ادب ډېر اثر واچولو .

د فرائډ ،ژونګ او ایډلر نظریات پۀ ادب کښې بنیادي ارزښت لري. دغه نظریاتو لیکوالو ته د ژوند د حقیقتونو په پېژندو کښې لار ښودنه اوکړه او ورسر ئې د نوؤ څېزونو د کارولو جواز هم اوزېړوۀ.

د دې نه پرته په فلسفه کښې کارل مارکس او فریډرک انګلز خپله معاشي اور معاشرتي فلسفه ورګډه کړه. مارکس د جرمنی د فلسفي هیګل د جدلیاتو فلسفه د عینیت د حدودو نه راویسته او د مادي ژوند دائرې ته ئې راوړۀ ځکه خو هغۀ په جار وائي چې د هیګل جدلیات په سر ولاړ وو ما په پښو اودورل. هغۀ د اسکلس، شیکسپئیر او ګوئټے کارنامو ته د عقلي بصر( cognitive insight) شاعرانه شکل وائي. د هغۀ په نزد ارټ په یو وخت زمونږ ژوند عقل او ذهني کیفیتونه ځان پله راکاږي. هغۀ ادب د ټولنیزو او اقتصادي حالاتو دا جنبیت یوه غوره وسیله ګڼي. د هغه پۀ خیال تر ټولو غورۀ ادب هغه ادب دے چې د نظریاتو په لړۀ کښې پټ

ټولنیز حقیقتونه په فکري کچه راښکاره کړي. جمالیاتي تخلیقونه د غېر انساني ټولنې نه د اذادۍ ارمان راژوندے کوي او تانده وي ئې. د غوره ادب دا خوبي وي چې جمالیاتي خوشحالي او علمي لذت له تخلیقي بنیاد پیدا کړي کوم چې په سرمایه دارانه ټولنه کښې ممکن نۀ دے. نن صبا چې د ارټ نه د لذت اخیستو او خرڅولو کوم شے جوړولے شي او د بازار د اثر د لاندې ئې راویستے شي حالانکې د ارټ تخلیق پۀ داسې اذاده فضا کښې کېږي چرته چې دغۀ اثرات نۀ وي په دغه اړۀ اظهر قادري لیکي:

"ادیب اگر اپنے فن میں سچا اور دیانت دار ہے تو وہ اپنے عہد اور معاشرے کے بنیادی تقاضوں سے کبھی چشم پوشی نہیں کر سکتا۔ اپنے عہد کی ناانصافیوں، معاشی برابری، محرومیوں، طبقاتی ناہمواریوں اور استحصالی قوتوں کے خلاف آواز اٹھانا ادیب کے فرائض میں داخل ہے۔(٦)

په ادب کښې ددغې تحریک په اولنو غټو نومونو کښې بالزاک او فلاوبیر شامل دي. هغوي په دې خبره زور راوړۀ چې مونږ له پکار دي چې د کلاسیکي اور رومانوي معیارونو نه سر غړونه اوکړو او په ادب کښې حقیقت هم هغۀ شان وړاندې کړو څنګه هغۀ ښکاري او خپلې طرفدارۍ ته دا اجازت ورنۀ کړو چې هغۀ د حقیقت موشاده ورانه کړي. پۀ دغه لړۍ کښې د "ایمائل زولا"نوم اخیستل هم ضروري دي. د ادب په اړۀ زولا خپل نظریات داسې بیانوي

"ناول نویس مشاہدہ اور تجربہ کرتا ہے۔ مشاہدے کے زریعے سے اصلی واقعات تک دسترس حاصل ہوتی ہے جن پر وہ اپنے ناول کو مبنی قرار دیتا ہے پھر تجربہ کرنے والا اتاہے اور اپنا تجربہ کرتا ہے اس سے میری مراد یہ ہے کہ وہ کسی قصے کے چمن میں کرداروں کو حرکت میں لاتا ہے اور یہ ثابت کرتا ہے کہ واقعات کا نشوونما اسی طرح ہو گا جو قانون جبر کا تقاضہ ہے اور جس کے مطابق تمام فطری واقعات ظہور پزیر ہوتے ہیں۔"(٧)

باالذاک هغه ارټ عظیم ګڼې په کوم کښې چې د حقیقي ژوند ژور شعور موجود وي. د دې سره سره هغۀ د یو جامد تصویر راښکلو هم په حق کښې نۀ دے هغه د بدلېدونکو حالاتو اود یوې ټولنې په بله کښې د ضم کېدو یا د بدلېدو د عکاسۍ هم پلوي دے. د بالذاک په اړه ډاکټر میترا داسې لیکي.

" د بالذاک د ریالیزم اساس پرټولنیزو حالاتو د وجدان د ستنو ودرول دي. له همدې کبله هغهٔ هیڅ کله خپل اتلان دې ته نهٔ هڅوي چې د خپل ټولنیز موقعیت یا طبقاتي ګټو پر خلاف څهٔ اووائي او یا د پېښو پر وړاندې پرته له هغهٔ څهٔ چې د هغهٔ د طبقې غوښتنه وي بل څهٔ څرګند کړي. (۸)

د بالذاک نه علاوه کورکو وروڼه او استاندال هم د فرانس په حقیقت نګارانو کښې شمېرلے شي. استاندال چې د ناول کوم تعریف کوي نو د هغهٔ حقیقت نګاري ترې په ښه شان څرګندېږي. علي عباس جلالپوري د هغه د ناول تعریف داسې ورکړے دے.

"ناول ایک ایسا آئینہ ہے جو شاہراہ پر چلا جا رہا ہو"(۹)

دغه رنګ په انګلستان کښې میریا اجورته هغه ادیب ګڼلے شي. چې په وړومبني ځل ئې په خپل تخلیق کښې د کلیوال ژوند حقیقي تصویرونه وړاندې کړل اود حقیقت نګارئ په لور ئې ګامونه پورته کړل. د هغه وروستو جان کاوپرپارس او مس فیلډ دغه رجحان مخ په وړاندې بوتلهٔ. هم دغهٔ رنګ د چارلس ډکنز په ناولونو کښې هغهٔ د خپل وخت د بالادستي طبقې د ژوند مصیبتونه او غمونه ځائے کړل او د هغوي د ژوند نقشه د داب برخه اوګرځېده. "دغه شان "تهیکرے" هم د حاکمانو د ژوندنه پرده لرې کړهٔ اود هغوي نا وړهٔ عملونه ئې عام اولس ته اوښودل. دغهٔ شان هینرک ایبان د تهیټریه دنیاکښې هغهٔ وخت بدلون ته لاره سمه کړه کله چې هغه په جنسي موضوعاتو ډرامې لیکل پیل کړهٔ اود مېنځنۍ طبقې ژوند او د هغوي ستونزې ئې د ډرامې د لارې اولس ته اوښودې. جارج برناډ شاه هم دغه روایت په وړاندې بوتلو او ټولنیزې ډرامې ئې اولیکلې. هغهٔ د ادب د تصور پولې فراخه کړې او د هر علم او هر فن نه ئې د ادب لپاره مواد واخیستل او ادب ئې د یو لوئے مقصد لپاره او کاروهٔ.

هم دغهٔ رنګ په روس کښې ټالسټائې، دوستو ایفیسکي او ګورکي په خپلو لیکونو کښې د حقیقت نګارئ تحریک مخ په وړاندې بوتلو. د دنیا یو شمېر ادب پوهان ټالسټائې د دنیا تر ټولو لوئې ناول نګار تسلیموي. د هغهٔ په ناولونو کښې د روسي ټولنې د ارتقا هغهٔ سفر ښکارېږي کوم چې د 1861نه پیل کېږي او 1915تر انقلاب رارسي. هغهٔ په خپلو افسانو او

ډراموکښې د خواري کښو د ژوند حقیقي تصویر وړاندې کړۀ. ټالسټائي دا ښائې چې په سرمایه دارانه نظام کښې چې کوم قسم کار عملي دے د هغې په سوب انسان د یو بې رحمه مشین پرزې جوړېږي. هم دغۀ تقسیم کار د خواري کښو لوټلو لویه لاره ده. د هغۀ د ریالیزم پۀ اړۀ ډاکټر میترا داسې لیکي.

"د تولستوي د هنر تومنه هغۀ مسله ده چې د روسیې د نولسمې پېړۍ ټولنې پرې راچورلي او هغۀ د بزګرانو مسله ده. د تولستوي په اثارو کښې رنځ ځپلي او محروم کلیوال تل حاضر دي . که دوي پۀ خپله حاضر نه دي سیوري ئې د داستان د شخصیتونو پر ذهن لمن غوړولي دي.(۱۰)

دغه رنګ دوستوایفسکي او ګورکي دغه لړۍ مخ په وړاندې بائي د ګورکي ناولونه هم دغۀ ښکارۀ رجحان لري اود حقیقت نګارۍ شعور پکښې ښکاره په نظر راځي.

په نوي دور کښې جارج لوکاچ حقیقت نګارۍ له د نوي دور د ستونزو او معروض سره سم د رنګ ورکولو هڅه کړي ده او مجرد او مجسم ممکنات (Potentialities) ئې په نظر کښې نیولي دي. دغۀ شان ولیم ریمونډ پخپل مضمون (Realism and contemporary Novel) کښې وئیلي دی چې د حقیقت نګارۍ دا دعوی چې هغۀ د امروزه ژوند ریشتونے تصویر دے دومره ساده نۀ ده ځکه چې ژوند پخپله یو پیچیده څیز دے هغه حقیقت نګارۍ په دوه قسمونه ویشلې ده نفسیاتي حقیقت نګاري اوسوشلیسټ حقیقت نګاري. دغۀ شان لوکاچ حقیقت نګاري په سماجي او تنقیدي قسمونه تقسیم کړې ده. پۀ موجوده دور کښې فرینک هم د حقیقت نګارۍ د تعریف کولو هڅه کړې ده او د هغۀ په خیال د نن دور حقیقت نګارۍ ته نوې حقیقت نګاري وئیل پکار دي.

د دې بحث نه څرګندېږی چې د ادبی تاریخ په بیلا بیله دورونو کښې د حقیقت تصور بدل شوے دے. د انسانی تهذیب او ټولنیز ژوند په شاه لید کښې د ژوند ستونزو او حقیقتونو هم خپل شکل بدل کړے دے او چونکې ادب د ژوند سره اوږۀ په اوږۀ روان دے نو هم د دغه

بدلېدونکو معروضي حالاتو او تصورراتو پهٔ تناظر کښې د حقیقت نګارۍ تعریفونه بدل شوی دی. ژوند چې څنګه دے هم هغه شان پېش کول که د حقیقت نګارۍ تعریف وۀ نو دغه تعریف اوس بدل شوے دے ځکه څۀ چې ښکارۀ دي او په نظر راځي د هغې په شا پټ محرکات سنجول او لټول حقیقت ته د رسېدو لپاره ضروري دي او بعضې حالات او واقعات دومره پېچیده او غوټې غوټې دي چې د هغې د پوهې لپاره د انسان تاریخ، تهذیب، کلتور، سیاسیاتو، معاشیاتو، مذهب، نفسیاتواو رسمونو رواجونو پوهه ترلاسه کول ضروري دي، او د دغه ټولو د پوهې په مرسته د ژوند یو هر اړخیزه نقشه راوړاندې کول په اصل کښې حقیقت نګاری ده. دغه شان مونږ په دې نتیجه رسو چې محض ژونداو د ژوند واقعات څنګه چې دی هغۀ شان ښودل د حقیقت نګارۍ ډېر سطحي او سرسري تصور دے پهٔ اصل کښې د هغې وېخ ته رسېدل د محرکاتو او عواملو نه پرده پورته کول چې په کښې د بره ذکر شوو ټولو علمونو په مرسته د هغې شاه لیده هم اوکتے شي په اصل کښې د حقیقت نګارۍ پوره او صحیح تصور دے. دلته باید دا هم اوکتے شي او یاد اوساتلے شی چې د نن د حقیقت نګارۍ تعریف که د بالذاک، ډکنز، ټالسټائي او ګورکي د تعریف نه بیخي بدل نۀ دے نو بیخی هغۀ شان هم نۀ دے پاتې شوے . د نن ژوند او د نني ژوند حقیقتونه بیل دي او په ادب کښې دغه حقیقتونه د هغوي د محرکاتو، عواملو او سوبونو سره مخې ته راوړل د نن د حقیقت نګارۍ غوښتنه ده او باید چې ننۍ حقیقت نګارۍ ته نوې حقیقت نګاري اووئیل شي.

### د حقیقت نګارۍ قسمونه

رومانوي حقیقت نګاري،اشتراکي حقیقت نګاري ،طلسماتي/جادوئي حقیقت نګاري

### پښتو افسانه کښې د حقیقت نګارۍ روایت:

د پښتو افسانې د معلوم تاریخ تر مخې راحت زاخیلي د پښتو اولنے افسانه نګار منلے کېږي. د هغه ا فسانه کونډه جینۍ چې د پښتو اولنۍ افسانه ده د یوې داسې پیخښې، عمل او رویې احاطه کوي چې زمونږ په ټولنیز ژوند کښې تر اوسه په نظر راځی. پۀ خپله دغه افسانه د

حقیقت نګارۍ یوه غوره نمونه ده او په دغهٔ بنیاد دا دعویٰ ډیره پهٔ اسانه کېدے شي چې د پښتو افسانې پیل د حقیقت نګارۍ نه شوے دے. دلته باید د پښتو د دغې افسانې دور او وخت پهٔ نظر کښې اوساتلے شي. د دې افسانې کوندږه جینۍ د چاپ زمانه ۱۹۱۷ ده. د راحت زاخیلي په نورو افسانو کښې هم دغه رجحان ډېر ښکاره په نظر راځي. دغهٔ شان دا رجحان د وخت سره سره نور پوخ شوے دے او په وړاندې تلے دے. د راحت زاخیلي نه پس د پښتو افسانې د اولني دور په افسانه نګارو کښې دغه رجحان تر لاسه کېږي. څوک چې په ویښو سترګو ژوند ، چاپېریال او معروض ته ګوري، پېژنبوته ئې ګوري او په خپله افسانه کښې ورته ځائے ورکوي.

اګرچې د پښتو افسانې اولنے دور تر ۱۹۴۹ء پورې ټاکلے شوے دے او په دغهٔ دور کښې هم ګڼ شمېر افسانه نګار د افسانې میدان ته راغلي دي خو دغهٔ دور ته باید د بنیاد جوړولو او د ځائے نیولو د دور په نظر اوکتے شي. د راحت زاخیلي نه علاوه چې هم د دغه دور افسانه نګار افسانه لیکي نو زیاتره د حقیقي ژوند ژوندۍ نقشه راوړاندې کوي او دغه شان دا باور نور هم پخښېږي چې په پښتو افسانه کښې د حقیقت نګارۍ اثرات د اولني دور نه په نظر راځي. په دغهٔ دور کښې د حقیقت نګارۍ دغه رجحان ته مونږ د حقیقت نګارۍ تحریک نهٔ شو وئیلےخو د هغې بنیاد ورته ضرور وئیلے شو. د پښتو افسانې په دغه اولني دور کښې افسانه نګارو ټولنیز حقیقتونه د افسانو موضوعات ګرځولي دي او د ژوند پېخښې او حقیقتونه نه ئې پهٔ افسانوی بڼه کښې خوندي کړي دي. په مجموعي توګه اګرچې ادب پوهان دغهٔ دور پهٔ فني حواله دومره د ذکر وړ نهٔ ګڼي خو تر څو چې په دغه دور کښې د حقیقت نګارۍ تعلق دے نو دغه دور حقیقت نګارۍ له رواج ورکړے دے او داسې د حقیقت نګارۍ دغه روایت هم د دغه اولني دور نه خپل بنیاد موندلے دے او د وخت سره سره چې پښتو افسانه مخ په وړاندې تلې ده نودغه روایت پکښې نور هم قوي شوے دے. میاں اذاد ګل د پښتو افسانې د وړمبي دور لیکوال دے د هغهٔ په افسانو کښې هم دغهٔ رجحان موندے کېږي. د دې نه علاوه ماسټر عبد الکریم هم د دې دور افسانه نګار دے د چا د افسانو په اړهٔ چې ډاکټر محمد اعظم اعظم داسې لیکي

"ماسټر عبدالکریم په خپلو افسانو کښې په شعوری توګه د ټالسټائی او د پریم چند د رنګ خپلولو کوشش کړے دے چې ذکر ئې دۀ په خپل کتاب "جولۍ ګلونه " کښې هم کړے دے (۱۱)

دا خو واضحه شوه چې په دې دور کښې په شعوری توګه د ټالسټائې او د پریم چند اثر پښتو افسانې ته رارسېدلے دے او داهم واضحه ده چې دغۀ دوارۀ لیکوال د حقیقت نګارۍ ملګري دي نو په دې بنیاد دا وئیل اسان دي چې په پښتو افسانه کښې د حقیقت نګارۍ روایت د اولنی دور نه موجو وۀ. دغۀ شان د اولني دور پۀ یو شمیر لیکونکو کښې دغۀ روایت چرته کم او چرته زیات په نظر راځي.

په دویم دور کښې د اولسي ادبي جرګې پېښور لیکوالو د نورو ادبي اصنافو پۀ شمول افسانه کښې هم بدلون مخې ته راورۀ او افسانه کښې د ژوند حقیقتونه نور هم په ښۀ شان ورګډ کړل. دغۀ شان په بره پښتونخواه کښې نور محمد تره کی دغه روایت له نور طاقت ورکړۀ او په پښتو افسانه کښې د حقیقت نګارۍ روایت مخ پۀ وړاندې لاړۀ. د دې نه علاوه د دغۀ دور په لیکوالو کښې د حسن خان سوز، اجمل خټک، مراد شینواري، محمد دین ژواک او میر مهدي شاه باچا پۀ افسانو دغه اثر او روایت ښۀ ښکاره په نظر راځي. د میر مهدي شاه باچا د افسانو په اړۀ اسیر منګل لیکلي دي:

"باچا جي پۀ خپلو افسانو کښې د سیاسي لوړو ژورو نه پرته په معاشرتي ستونزو هم رڼا اچولې ده او د ترقي پسند تحریک د اثر لاندې ئې د ټولنې ټیټې جګې پۀ ګوته کړي دي"۱۲

دغه شان مونږ پۀ دې نتیجه رسو چې په دې دور کښې پۀ پښتو افسانې کښې دحقیقت نګارۍ روایت په باقاعده توګه په یو قوي صورت کښې مخې ته راځي. د مهدي شاه باچا نه ورسته

قلندر مومند د اشتراکي حقیقت نګارۍ روایت مظبوط کړے دے او د هغۀ نه علاوه د موسی شفیق، مفلس دراني، صاحب ذاده رازق نور، ارباب رشید احمد، طاهر بخاري او نور لیکوال په څۀ نه څۀ ډول دغه روایت مظبوطوي او د پښتو افسانې قیصه تر زېتون بانو رارسي.

د زېتون بانو په افسانو کښې حقیقت نګارۍ په جامع او هر اړخیز شکل کښې په نظر راځي. په خصوصي توګه د زنانو د ستونزو او نفسیاتو په اړه د هغې افسانې پۀ پښتو کښې د حقیقت نګارۍ غوره نمونې دي او کله کله هغه د حقیقت نګارۍ د پولو نه واوړې او د فطرت نګارۍ په مېدان کښې ورګډه شي. دغه رنګ د سمندر خان سمندر، همېش خلیل، لائق شاه ، لطیف وهمي، عبد الروف قتیل خوګیاني، پیر محمد شارق، اشراف حسېن احمد، احسان الله هیر، پروفېسر هدایت الله ختک، او عبد الغفران بیکس په افسانو کښې هم د حقیقت نګارۍ دغۀ روایت په څه نه څه شکل ډېر ښکاره په نظر راځی او چې پښتو افسانه تر طاهر افریدي رارسي نو دغه روایت پکښې خپل بنیادونه ښۀ پاخۀ کړې وي.طاهر افریدي په خپلو افسانو کښې د ټولنې ټول حقیقتونه د پوره جزئیاتو سره په خپلو افسانو کښې ځاے کوي او دغه رنګ رجحان ګڼ شمېر افسانه نګار متاثره کوي د طاهر افریدي د افسانو نه وروستو دغۀ رجحان نور قوي کېږي او د یو باقاعده تحریک په صورت کښې مخې ته راځي

## په "امېل" کښې د حقیقت نګارۍ تجزیه

د ډاکټر شبېرزمان سیماب په افسانوي مجموعه "امېل" کښې تر ټولو ښکاره رجحان د حقیقت نګارۍ دے ۔ په دغۀ افسانوي مجموعه کښې په ټولو افسانو کښې د حقیقت نګارې عکاسي په یو شکل او یا په بل شکل کښې موجوده ده .دا یو منلے شوے حقیقت دے چې لیکوال د ټولنې نباض وي او د ټولنې ټول لاندي باندي ئې په نظر کښې وي هغۀ په هیڅ صورت هم د ژوند او د ژوند د حقیقتونو نه سترګې نۀ شي پټولے او چې څومره هم یو لیکوال دغۀ ژوند او د دې حقیقتونه په خپلو لیکونو کښې احاطه کوي دومره هغۀ افاقي تخلیقونه مخې ته راوړے شي . د ډاکټر شبر شمان سیماب د افسانو نه داسې ښکاري چې هغۀ د خپل عصر د ژوند ډېره ژوره مشاهده کړې ده او صرف هغۀ ښکاره او ساده حقیقتونه ئې د خپلې افسانې موضوعات نۀ دي ګرځولي کوم چې ډېر ساده او ښکاره دي بلکې هغۀ د دغۀ حقیقتونو په شا د هغۀ نفسیاتي،سیاسي ،سماجي ،کلتوري او تاریخي پرتونو هم تجزیه کړې ده چې د دې دور ډېر حقیقتونه ئې مسخ کړي دي او پوهېدل پرې ګران دي .ډاکټر شبېرزمان سیماب د ژوند په شور او

شور په ژوند کښې شور شور ژوندے او ژوندے ژوندے شور دے داسې شور چې د خارج نه د هغهٔ داخل ته او د داخل نه د هغهٔ خارج ته سفر کوي او د هغهٔ په حساس زړهٔ او ذيهن کښې ورته غبرګون پيدا کېږي او هغهٔ ئې ډېر په ديانتدارۍ د خپلې افسانې لمن ته سپاري

او د پښتو افسانې په موضوعاتي تنوع کښې غوره اضافه کوي .لېنن او مارکس د تېرې صدۍ داسې ژوندي نظرياتي حقيقتونه دي چې د نظرياتو انګازې او انګې ئې نن هم اورېدے شي او تر ننه د هغوي د نظرياتو په بنياد د يوې مثالي ټولنې د جوړولو بحثونه لا نهٔ دي اودرېدلي په دې سيمه د هغوي د نظرياتو خورېدل او ګڼ شمېر باشعوره ځلمو او پېغلو د هغې نه اثر اخيستل او د هغهٔ ائيډئل لټون او د هغې لپاره هلې ځلې کول کوم چې هغوي تراشلے وهٔ د دې سيمې د عصري حقيقتونو لازمي برخه ده چې انکار کول ترې ناممکن دي .ډاکټر شېرزمان سيماب د "امېل" په اولنۍ افسانه "يوټرن" کښې دغهٔ ژوندے حقيقت د پښتو افسانې تاريخ ته حواله کړے دے او د هغهٔ ځلمو او پېغلو د هلو ځلو تاريخ ئې په افسانوي بڼه خوندي کړے دے چې د دغهٔ نوي بدلون په هيله ئې خپل ژوند دغه کار ته وقف کړے وهٔ.د "يو ټرن" افسانې "ارشد" او "جميله" د دغهٔ ځلمو او پېغلو نمائينده کردارونه دي چې په دغهٔ مبارزه کښې ئې خپل ډېر قيمتي وختونه صرف کړي دي . خو داسې انقلابيان هغهٔ وخت د داسې کرب او اذيت سره مخ شي چې برداشت کول ئې د هغوي په نفسياتو ژور اثرات پرېږدي او په نتيجه کښې ئې مايوسي او نااميدي د هغوي د ژوند برخه شي کله چې د هغوي سياسي قبيله ټوټې ټوټې او لوټې لوټې شي خو د دې هر څهٔ باوجود څهٔ انقلابيان بيا هم د دغهٔ انقلاب د پرقېدونکي نمر روښانه سبا ته په انتظار وي او په سترګو کښې ئې د اميد شمعې تتې بلېږي .

د ټولې نړۍ اوسېدونکي که د نړۍ د هرې منطقې ،ژبې ،کلتور ،مذهب ،قام ،قبيلې ،رنګ او جغرافيې سره تعلق لري د خپل شناخت په ځاے ساتلو هڅه کوي .د خپل قام او خاورې سره سره د خپل کلتور،ژبې او رواياتو سر مينه د هر باشعوره انسان د فطرت خاصه ده او بيا دا هم يو کوټلے حقيقت دے چې کله انسان د خپل وطن او قام قبيلې نه لرې شي نو د هغهٔ دغه فطري جذبه نوره هم تانده شي او هغهٔ د خپلې قامې پېژندګلو پهٔ اړه نور هم حساس شي.د ډاکټر شېرزمان

سیماب د افسانوي مجموعې "امېل" افسانه "پښتون " هم دغهٔ نړیوال منلے شوے حقیقت احاطه کوي او د دغهٔ حقیقت د ښکاره کولو په غرض د کالو خان نه د تلي پښتون کردار تخلیق کوي چې ډېر په مؤثر انداز کښې ترې د خپل کلتور او ژبې سره د مینې د اظهار انساني فطري جذبه ظاهروي او دغهٔ رنګ دغهٔ کردار د بې شمېره انسانانو د ترجمانۍ لپاره کاروي لکه چې په افسانه کښې هغهٔ وائي:

" د هغهٔ د پاره دا هر څهٔ نا اشنا هم وو خو اشنا هم وو ځکه چې د ټونک او روهیلکنډ ریاستونه د هغهٔ د وړاندې وو.د بمبۍ په ښار کښې ډېر شمله ور پښتانهٔ هغهٔ لیدلي وو او که دهلي ته هم په پېښه تلے وي نو لوئې ارتې ارتې جامې ،چارسدوالې څپلۍ،په اوږه پروت ګور او دروند څادر،قیص پرتوګ ټول پښتني لباسونه به هغهٔ ارو مرو لیدل د بمبۍ په تنګو کوڅو او ګڼ ګوڼ ښار کښې به هغهٔ ډېرې ژبې اورېدلې وي ولې خپله خوږه پښتو به ئې هم تر غوږو شوې وي "(۱۳)

په دغهٔ اقتباس کښې دغهٔ ژوندے حقیقت څومره په موثر ډول خوندي شوے دے؟ خو هغهٔ د یو زیرک لیکوال په حېث فقط په دغهٔ ساده حقیقت نګارۍ اکتفا نهٔ ده کړې بلکې د عالمګیریت په دې دور کښې کلتورونو او ژبو ته راپېښې خطرې ئې هم په نظر کښې ساتلې دي او دغهٔ رنګ په دې افسانه کښې هم د نني دور یو لوے حقیقت مخې ته راځي

د پښتنو په سیمه د تېرو څو لسیزو نه بل اور .بد امني،مرګونه، ژوبلې او جعلي جنګونو چې دا سیمه ځپلې ده او دې اولس ته ئې کوم زیان رسولے دے د هغې اندازه چا ته نشته او د دې حقیقت نه څوک انکار کولے شي ـ افسانه "په سبب د ظالمانو حاکمانو"په سبب د ظالمانو حاکمانو"د اود دغهٔ حالاتو او د دغه حالاتو نه د راپېدا کېدونکو اثراتو او بد حالۍ تصویر دے ـ د اے پي ایس پېښه او دغهٔ شان نورې خونړې پېښې داسې پېښې دي چې د پښتون قام په وګړو ئې داسې نفسیاتي اثرات پرېښودې دي چې راوتل ترې ډېر ګران دي په خصوصي توګه دغه پېښې د پښتنو مېرمنو په نفسیاتو کوم اثر کړے دے او هغوي ئې د کوم سټرېس او وېرې سره مخ کړې دي په افسانه"امتحان "کښې د دغهٔ دردونکې حقیقت نه پرده پورته شوې ده داسې چې زړونه ارې

ارې کوي او لوستونکے په دې سوچ مجبوره وي چې دا هر څۀ ولې کېږي او د دې ذمه وار څوک دي؟

"مۀ ځۀ بچے....مۀ ځۀ.......سکول ته مۀ ځۀ.....هلته ډزې دي ـ اوګوره دا سپينې جامې به دې په وينو تکې سرې.....اے د ډزو اواز راځي .مۀ وايه بچے سکول مۀ وايه"(۱۴)

دا هغۀ نفسياتي اثر دے چې د دغۀ افسانې د يو مور کردار دے او د ګڼ شمېر مائيندو د نفسياتي کېفيتونو نمائندګي کوي چې بچي ئې په سرو وينو لمبېدلي دي او هغوي ئې د واپسۍ لارو ته ګوري خو نۀ خو د هغوي د زړۀ توټې راستون کېږي او نۀ خو دا پته لګي چې د هغوي وينې چا توئي کړې؟او ولې ئې توئې کړې؟ او بيا د دغۀ افسانې اختيتام په يو داسې سوال کېږي چې په حقيقت کښې د دې سيمې د هر وګړي سوال دے چې دا امتحان ولې دومره اوږد دے؟دا امتحان به کله ختمېږي؟په مجموعي توګه پښتون قام د يو خونړي قامي امتحان نه تېرېږي او هم دغۀ حقيقي سوال ا فسانې په اخر کښې مخې ته راوړے شوے دے چې د ټول پښتون قام سوال دے۔

دا يو ښکاره حقيقت دے چې يو تخليقکار او شاعر او فنکار د خپل تخيل په زور ائيډئيل تخليق کوي او د حسن او ښکلاء پېکرونه جوړوي په عمومي توګه دغه عمل عموما تخيلاتي وي خو د تخليقکار د فني ژوند د پاره ضروري وي نو ځکه عموما داسې کېږي خو بل خوا دا هم يو منلے شوے حقيقت دے چې په مينه کښې انسان څومره حساس او قابض وي چې د بل چا د ښکلا تصوير پکښې تراشل نۀ برداشت کېږي و بيا يو ښځه دا کله هم نۀ برداشت کوي چې د هغې خاوند دې د بل چا د حسن سندرې ووائي نو په داسې حال کښې د تخليقکار کورنے ژوند او يا فنني سفر ضرور متاثره کېږي ما ته نن هم داسې ګڼ شمېر شاعران معلوم دي چې د خپلو کورودانو په دباو ئې شاعري پرېښودې ده ـ په افسانه "منزل" کښې هم د دغۀ ټولنيز حقيقت عکاسي شوې ده او د افسانې زهير هم د دغۀ تخليقکارانو په ښۀ توګه نمائيندګي کوي۔

غربت د بلها جرمونو سوب او بنياد دے د و سائيلو غېر منصفانه تقسيم ،طبقاتي لاندي باندي او د برابرۍ نيشتوالي په غربت کښې اضافه کړې ده او حکومتونه او رياستونه د خپلو زمه وارو

نه غافله دي په داسې حال کښې بې وسه او محرومه طبقې صرف او صرف د حالاتو په رحم او کرم او د بالا دستې طبقې زیر اثر دي ـ د دوي استحصال کېږي او عموما دوي په دغۀ ظلم او جبر خاموشه وي ځکه چې یو خوا غربت وي او بل خوا زور په داسې حال کښې دغۀ بې وسه طبقه ځان حالاتو ته اوسپاري ځکه چې بله لار نۀ وي او نۀ د خلاصي کومه طریقه ـ زمونږ په ټولنه کښې د دغۀ خوارانو د زنانوؤ د جنسي تشدد ښکار کېدل یو ښکارۀ جارۀ حقیقت دے او که مونږ ئې منو او که نۀ خو دغۀ حقیقت د ژوند په هر قدم خپل ځان ښکاره کوي په افسانه"انتقام" کښې ډاکټر شېرزمان سیماب د دغې حقیقت نه په ډېر جرات او بې باکۍ پرده پورته کړې ده او هغۀ ناوړۀ مخونه ئې خپل اولس ته مخامخ کړي دي چې په دغۀ ناوړه عمل کښې ککړ دي او بیا ئې د دغۀ حېواني کردارونو انجام هم خپل اولس ته ښودلے دے دلته دا هم ښودلے شوي دي چې هر چا ته خپل عزت ګران وي او د هغې لپاره هره قرباني اسانه وي د غریبانانو هم عزت وي او چې کله هم څوک هغې ته لاس واچوي نو د هر انسان په رنګ هغوي هم د خپل عزت د پاره اخري قدم اخلي که دغۀ قدم د هغوي د ژوند بېلات ولې نۀ وي؟

وفاکول د پښتون شان دے او د پښتونولۍ لازمي برخه ده پښتون نۀ خو دروغ وئیلے شي او نۀ د چا جذباتو سره په دروغو لوبې کولے شي ـ مینه یو ځل او د یو انسان سره کېږي او هغۀ هم په کوشش نۀ داسې ډېر کرته شوي دي چې سړے بل چا سره مینه کوي او د سړي سره بل څوک مینه کوي په داسې حالاتو کښې اکثر خلق تېندک اوخوري او لار ترې ورکه شي او بنده د یو عجیبه نفسیاتي الجهن ښکار شي ـ په افسانچه "کلاس فیلو" کښې د انساني ژوند د دغۀ حقیقت او نفسیاتي الجهن څرګندونه شوې ده او ورسره دا هم مخې ته راوړے شوي دي چې د دغۀ کېفیت اثر تر ډېر عمره د انسان په ذیهن او نفسیاتو موجود وي او که هغۀ غواړي هم خو وتل ترې ګران وي:

"زما د خیال په دشته "ګل" لکه د ګل اوغوړېده او هغۀ ورځ مې هم یاده شوه چې دا ګهړۍ هغې په خپل لاس راوړې وه او هغۀ وخت مې هم مخې ته شۀ چې دا ګهړۍ ما په دغۀ دېوال لګولې وه"(۱۵)

دغهٔ اقتباس په جار ګواهي ورکوي چې د افسانچې دغهٔ کردار ډېره موده پس هم د دغهٔ نفسياتي الجهن نه نهٔ دے بهر شوے او داسې کېدل عېن حقيقت دے .

زمونږ د ټولنې په مېنځ کښې طبقاتي لاندے باندے خان او دهقان.نائيک او کنډري ،امير او غريب زمونږ د ټولنې رانه حقيقتونه دي او بيا د دغهٔ طبقو تر مېنځه د ژوند د معيار تضادات او فرقونه هم داسې حقيقت دے چې هډو پکښې بله راے نشته ـ د دې ټولنې د دهقان او کنډري ځوي ته اد حق کله نهٔ دے حاصل چې د نائيک او خان لور سره مينه اوکړي او دغهٔ رنګ د خان او ملک لور ته هم دا حق نشته چې د غريب سړي ځوي سره مينه اوکړي او که څوک اوکړي هم نو انجام ئې ډېر دردناک وي ـ په افسانه "اينځر" کښې د دې جوت ټولنيز حقيقت په ډېره ښهٔ شان عکاسي شوې ده او لوستونکو ته ښودلې شوي دي چې د مينې لېونۍ جذبې هم کله کله په طبقاتي نظام کښې د خانۍ او غريبۍ په وړاندې ماتې اوخوري او په نتيجه کښې ئې ګڼ شمېر اينځران د ژوند د اژدها په خله کښې داسې پاتې شي چې نهٔ روغ وي او نهٔ لېوني، نهٔ مري او نهٔ پائي ـ خپل حواس بائيلي او په ورکو لارو سر شي خو چې کله ئې حواس په ځاے کېږي نو بيا هغوي هر څهٔ بائيللي وي او د ژوند په جوارۍ کښې تش لاس ولاړ وي :

"په دروازو او کوڅو کښې قيصې کېدې .دې خوار پړق ته اوګوره... مور دې ورله مزدوري کوي او تهٔ ئې په لور مئينېږې...چې چرته نهٔ وي دا خلق هغهٔ کوي د خپل څادر نه پښې اوباسي"(۱۶)

په افسانه "اينځر" کښې دغهٔ خبرې ژوند او حقيقت ته څومره نزدې دي دغهٔ خبرې زمونږ د امروزه ژوند د معمول حقيقي خبرې دي او مونږ ئې اورو او کوو ئې او دغهٔ دا افسانه هم د حقيقت نګارۍ غوره نمونه ګرځي ـ دا فسانه چې په اخر کښې د يوې الميې په شکل کښې ختمېږي نو هم د حقيقت نه لرې نهٔ اوځي اينځر چې کله د خپلې مور لاش په اوږه اوکړي نو داسې ګويا شي:

"راځه مورې ستا جنازه زهٔ په دې پليته معاشره کښې نهٔ کووم او نهٔ زهٔ تا د سوداګرو په دې ښار کښې ښخوم."(۱۷)

په دغهٔ دوهٔ جملو کښې د ننۍ ټولنې ژوندے تصوير خوندي شوے دے او که څهٔ هم خبره ترخه ده خو حقيقت ضرور دے ـ

سوالګري او ګداګري د دې دور د ټولنې مهم حقیقتونه دي او زمونږ په خوا و شا کښې په هر قدم تر سترګو کیږي خو دغهٔ حقیقت دومره ساده نهٔ دے او په خپل مخ یو شمېر نقابونه لري ـ پېشه ورګداګران که څهٔ هم دغهٔ ناوړه عمل د یوې پېشې په توګه خپلوي او د ټولنې ناسور جوړیږي نو په مرسته کښې ورسره د دې هېواد ادارې وي چې خپله برخه ترې اخلي او د ټولنې په ستونزو کښې اضافه کوي خو بل اړخ ته د دغه خلقو په قطار کښې داسې خلق هم شته چې واقعي خپلې بې وسۍ او بې کسۍ په دغه کار مجبور کړي وي او د ښار فټ پاتونه ئې نیولي وي او د خپل دوزخ دوزخ ژوند اوورونه په هغهٔ ځو پېسو او ټکو سړول غواړي چې په دغهٔ فټ پاتونو ورته د چا د لاسه تر لاسه شي خو د افسوس خبره دا ده چې په دې نظام کښې د ریاستي ادارو د ظلم نه دغهٔ بې وسه او بې وزله خلق هم په امان نهٔ دي او په ځاے د دې چې د دغهٔ خلقو مرسته اوکړے شي د دغهٔ خوارانو د کچکول نه هم بتهه اخیستے کیږي ـ په افسانه "پاستر جیسوټے" کښې د دغه تریخ حقیقت معروضي جائزه په نظر راځي او افسانه نګار د یو لوے حقیقت نګار په شکل کښې زمونږ مخې ته اودریږي ـ

> "په فټ پاتهه ګنه ګوره وه ـ چرته به چې زما قدمونه درانهٔ شول هلته مې ساه اودربده ـ د خلقو شور جوړ وهٔ ـ تانېدار صبب نرۍ نروچکۍ نشۍ ته هتکړۍ لګولې وې ـ نشۍ بورقه په لاس کښې تانېدارصبب ته وائي نن خو ما په خپله هم سل روپۍ نهٔ دي پېدا کړي نو تا له څنګه سل روپۍ درکړم"(۱۸)

زمونږ اخلاقي معیار څومره غورزېدلے دے او زمونږ ټولنه د انحطاط په کومه انتها ولاړه ده دغه افسانه د نوروحقیقتونو تر څنګ دغه حقیقت هم په خپله لمن کښې رانغاړي ـ

زمونږ ننۍ ټولنه د یو عجیبه کشمکش سره مخ ده یو خوا د نوي ژوند نوي حقیقتونه او د علم او پوهې رڼا ده او بل طرفته د پخوانو رسمونو او رواجونو سیوري دي چې زمونږ په ټولنه لا خوارهٔ دي کهٔ یو طرف ته د پوهې او شعور،عقل او منطق طرفدار موجود دي نو بل اړخ ته د روایتي فرسوده رواجونو عالم بردار هم خپل دلیلونه او جوازونه لري ـ دغهٔ اختلاف په هر کور او هر خاندان کښې ښکاره په نظر راځي او په ژوند ئې اثرات هم ډېر ښکاره دي ـ په افسانه "ازانګې"

کښې ډاکټر شېر زمان سيماب د ننۍ ټولنې او ټولنيز ژوند د دغۀ حقيقت احاطه کړې ده چرته چې د دلبر خان مور د هغۀ د ماشومې د زېږون سره سم هغۀ د خپل نل نمسي په نوم کول غواړي خو دلبر خان مزاحمت کوي او په دغه تناظر کښې د مور او ځوي تر مېنځۀ افسانه نګار هغۀ مباحثه کوي چې بره ورکړے شوے حقيقت ترې ډېر په موثر انداز کښې مخې ته راځي۔

د درئمې دنيا په اکثريتي هېوادونو کښې د بشري حقونو پامال کېدل او د انسانانو سره غېر انساني سلوک کېدل زمونږ د دور داسې حقيقتونه دي چې هر څوک ئې مني او انکار کول ترې ممکن نۀ دي او بيا په دغۀ خرابو حالاتو کښې د داسې کردارونو هم کمے نشته چې د بشري حقونو د پاره ئې شپه او ورځ په ځان يوه کړې وي او هر قسمه قربانۍ ته تيار وي او د دغه کردارونو سره د هغوي د کار او زيار په وجه د ټولنې با شعوره او حساس خلق ډېره مينه کوي۔ خو د دې حقيقت سره سره دا هم حقيقت دے چې په دغۀ کردارونو کښې د داسې کردارونو هم کمے نيشته چې د بشري حقونو د تحفظ په نوم بشري حقونه د پښو لاندې چقوي او د دوي نعرې او کار صرف د خپلو مفاداتو د حصول تر حده وي۔ په "ائينه" نومې افسانه کښې افسانه نګار د دغۀ مکروهه کردارونو د مخونو نه پردې اوچتې کړې دي او خپل اولس ته ئې په حقيقي رنګ کښې مخامخ اودرولي دي۔ زمونږ په ټولنه کښې هر خوا د بشري حقونو د عالمبردارو په شا چرته د جاوېد مکروه کردار دے،چرته د پوليس افسر او چرته د ټول نظام وحشتناکه څېره ده چې هره ورځ يوه "ناز" د هغې د حقونو په نوم لوټي او دغۀ ناوړه کرداونه محفوظ وي او کۀ چرته ډېر کم د دغۀ خلقو په ضد څۀ اوشي هم نو د اخبار د يوې اټريکټيو سرخۍ نه خوا نۀ ځي۔

زمونږ ژوند د نوي دور د نوې ټيکنالوجۍ سره ډېر بدل شوے دے او دغۀ ټيکنالوجۍ د يو شمېر اسانتياو راپېدا کولو سره سره ګڼ شمېر نوې ستونزې هم رازېږولې دي۔ زمونږ د ټولنې خپل روايات دي چې زمونږ د نفسياتو سره ډېره نزدې علاقه لري خو بل خوا د نوي کهول د ځوانانو او پېغلو لاس ته داسې الات راغلل چې د يو شمېر رواياتو بندونه ئې د مېنځه يوړل۔ د نوې ټيکنالوجي ازادي او زمونږ د ټولنيزو رواياتو پابندي د دې دور داسې حقيقتونه دي چې نوے نسل ئې په مېنځ کښې ژوند تېروي خو د دې دواړه حقيقتونو په مېنځ کښې راګېر د نوي نسل په

نفسیاتو کښې چې کوم هیجان او طوفان پېدا کېږي په افسانه "ان باکس" کښې د دغه عصري حقیقت تصویر کشي شوې ده او ورسره د دې نفسیاتي حقیقت نه هم پرده پورته شوې ده چې هر انسان غواړي چې خپل غم او خوشحالۍ کښې بل انسان شریک کړي. او هم دغهٔ رنګ حقیقت په افسانه"پاور اف"کښې مخې ته راوړے شوے دے او که د دغه دواړو افسانچو نه افسانو سر خطونه لرې کړے شي او د افسانو سرخطونه لرې کړې شي او په بل ځۀ کښې چاپ کړے شي نو بیخي حقیقي قیصه به ښکاري

د نوې دور د یو شمېر حقیقتونو تر څنګ دا حقیقت هم لکه د نمر ښکاره دے چې زمونږ په ټولنه کښې ګڼ شمېر پېغلې د یوې وجې نه او یا د بلې وجې نه د خپلو عمرونو داسې برخو ته اورسي چې د ژوند د ملګرې په ارمان ئې تور اوربلونه سپین شي او ژوند ئې د تنهائۍ ببدیا شي کله خو د دوي د برترۍ احساس د دې سوب شي،کله غربت او کله غلط او ناروا رسمونه خو دغهٔ د تنهائۍ احساس او بیا دا احساس چې د هغې د ځوانۍ او نسوانیت نه هیڅوک متاثره نهٔ شول چې هغه ئې د خپل ژوند ملګرې جوړه کړې وې هغوي د ګڼو نفسیاتي عارضو ښکار کړي او هغوي هر وخت د یو لوے اذیت او کرب نه تېرېږي . په افسانو "جامې"،"دعا" ،"ائیډئیل او "کېفیت" کښې د دغه ټولنیز حقیقت او نفسیاتي کېفیتونو په زړهٔ پورې عکاسې شوې ده چې د افسانه نګار د تېز قوت مشاهده اندازه ترې هم کېږي.

د مور پلار تربیت او سلوک د ماشوم په کردار او شخصیت داسې نقشونه پرېږدي چې ټول عمر د هغهٔ د شخصیت او نفسیاتو نهٔ بئیلېدونکي برخه شي . په دې دور کښې زمونږ ټولنه د هر قسمه خرابیو او بد عملیو نه ډکه ده په داسې حال کښې د مور او پلار معمولي لاپرواهي د ماشوم د مستقبل د تباهۍ سوب جوړېدے شي او نتېجه ئې ډېره خطرناکه کېدے شي هم دومره خطرناکه لکه څنګه چې افسانه نګار په افسانه "نیازبین" کښې خپلو لوستونکو ته ښودلې ده لکه چې یو اړخ ته خو ډېر قېمتي ژوند د مېنځه لاړ شي او بل اړخ ته د چا د ارمانونو ګلستان بې وخته تالا ترغه شي. دغه افسانه هم د ژوند او ټولنې حقیقي ترجمانه ده او د حقیقت نګارۍ غوره بېلګه ده.

انسان د خپلو ګڼ شمېرجذبو سره دنیا ته راغلے دے او دغهٔ جذبې تر ډېره حده فطري دي او انسان ئې زېر اثر وي او که انسان ډېره هڅه اوکړي نو هم کله کله د دغهٔ جذبو مخې ته وسله اوغورځوي او جذبې حاوي شي لکه چې په افسانه "جذبه" کښې افسانه نګار مونږ ته ښودلي دي او د یو لوے حقیقت نګار په حېث زمونږ مخې ته راغلے دے۔

جرګه د پښتونولۍ ډېر مهم عنصر او اداره ده چې مونږ ټول پښتانهٔ پرې ویاړو او په ډېر فخر ئې د نورو قامونو په وړاندې حواله هم ورکوو ۔ جرګه د پښتنو په ټولنیز ژوند کښې ډېر مهم کردار لوبوي او ډېرې پېچیده شخړې په ډېره ښهٔ طریقه حل کوي خو دې حقیقت ته ډېره لږه پاملرنه کېږي چې د جرګې د روایت تنقیدي جاج واخیستے شي او د فېصلو ئې هم ځکه چې د پښتنو جرګې هم کله کله د سیلۍ د طرفه شي او شپول اونړوي ۔ ډاکټر شېرزمان سیماب د یو بې باکه حقیقت نګار په حېث په خپله افسانه"جرګه" کښې د دغهٔ تریخ حقیقت نه پرده پورته کړې ده چې ګڼ شمېر نور لیکوال ترې سترګې پټوي۔

په دې هېواد کښې د میرټ د بالادستۍ قیصې او چغې څوک نهٔ اوري او څول نهٔ وهي خو چې کله د عمل وخت راشي نو بیا د هر چا نه یو دوه خطا شي او بیا د حق ورکولو دپاره د اهلیت د سند سره سره د نورو سندونو غوښتنه هم پېل شي او د میرټ مرۍ خفه کړے شي او د انصاف خون اوکړے شي دغهٔ حقیقت مونږ هره ورځ هر خوا مشاهده کوو او ډاکټر شېرشمان سیماب صېب په خپله افسانچه "سند" کښې په ډېره استکارۍ د دغهٔ حقیقت ژوندے انځور زمونږ په وړاندے ایښودے دے۔

د ډاکټر شېرزمان سیماب په افسانوي مجموعه "امېل" کښې ژوند د خپلو ټولو رنګونو او پېکه والو سره په حرکت کښې په نظر راځي او افسانو موضوعات ئې زمونږ د حقیقي ژوند موضوعات ښکاري ۔ هغهٔ د ماضي په لړو او دوړو کښې د ورکېدو په ځاے د حال تجزیه او لوسته کړې ده او د تخیل په رنګین جهان کښې د ګرځېدو په ځاے ئې د حقیقي ژوند ژوندۍ نقشې افسانه کړې دي د افسانوکردارونه،د کردارونو کړهٔ وړهٔ ،خبرې اترې،نفسیاتي ښهٔ عمل او

رد عمل ئې زومونږ سره حقيقي تړون او پېوستون لري او هم دغهٔ وجه ده چې د پښتو افسانې ستر څېړنکار پروفېسر اسير منګل د هغهٔ د افسانو په باره کښې ليکي:

"په دې لنډو قيصو کښې مونږ نهٔ يوازې ډاکټر شبر زمان سيماب وينو بلکې په شاليد کښې ئې د پښتونخواه هغهٔ تصويرونه هم ښهٔ جوت دي چې کوم د معاشرتي بد مرغيو له کبله بد رنګ شوي دي او يا د موجوده ناورين له کبله تالا ترغه شوي دي"(١٩)

هم دغهٔ رنګ د پښتو افسانې ستر نوم زېتون بانو د ډاکټر شبر زمان سيماب د افسانو په اړه داسې ليکي:

"ښاغلے سيماب په تشو خلاګانو کښې لاس و پښې نهٔ وهي بلکې د خپل چاپېرچل او ماحول نه داولسي ژوند ،معاشرې او يا بيا د کائنات په بابله چې کومې پېخښې راپخښېږي او د دغهٔ وارداتو په حقله بيا ستا،زما د بل او بل او د دې بل کومې روئې او افکار چې راولړزېږي نو هم د دغه په رڼا کښې خپل ليک ورانډې کوي"(٢٠)

د پښتو ژبې لوے محقق همېش خليل د ډاکټر شبرزمان سيماب د افسانو په اړه داسې ليکي:

"د ښاغلي ډاکټر شبرزمان سيماب د افسانې د بيان په شګفتګۍ او فکري ښائست د خوا و شا ماحول د مشاهدې او مطالعې هغهٔ مختلف عکسونه دي چې د حقيقتقونو رڼا ګانې خوروي او هم د مشاهدو او تجربو يو داسې بيان دے چې زمونږ د موجوده دور د سماجي، معاشرتي، اقتصادي ژوند او اولسي مسئلو خوارهٔ وارهٔ انځورونه دي "(٢١)

## نتيجه:

د دغهٔ ټولو بېلګو ، ثبوتونو او پوهانو د رائيو په بنياد دا خبره ثابتېږي چې د ډاکټر شبرزمان سيماب افسانوي مجموعه "امېل" د خپل عصر د ژوندو حقيقتونو تجزيه ده او د حقيقت نګارۍ غوره نمونه ده۔ هغهٔ د خپل عصر او ټولنې دغه حقيقتونه د خپلو افسانو موضوع ګرځولي دي او په موجوده دور کښې ئې د پښتو افسانې په تاريخ کښې ځان د يو زيرک او بې ريا حقيقت نګار په توګه معارفي کړے دے

## حواله جات(References):

1. *The new Encyclopedia Britannica, (Volume 15), USA: University of Chicago, 1997, Page 539.*
2. ابو الاعجاز ،حفیظ صدیقي،کشاف تنقیدي اصطلاحات ،اسلام آباد ، مقتدره قومي زبان، ۱۹۸۵،مخ ۲۹.
3. علامه ،نیاز فتح پوري، انتقادیات، کراچی، حلقه نیاز ونګار ۱۹۹٦ء مخ۳
4. ډاکټر،مبارک علی، تاریخاورفلسفه تاریخ، لاهور، فکشن هاؤس، ۱۹۹٦ ،مخ ۱۲۷
5. سیپ(ماهنامه)،شماره۵۴،کراچي،حلقه فکر نو ،مخ۲۴
6. وهاب اشرفي،تاریخ ادبیات عالم، (جلد پینځم) دهلي،ایجوکېشنل پبلیشنګ هاؤس، ۲۰۰۱،مخ۶۶
7. ډاکټرلطیف بهاند(ژباړن)، ،ریالزم او ضد ریالزم،ډاکټر،میترا، شالکوټ پښتو ادبي ګورځنګ شالکوټ. ۲۰۱۵، ص ۵۵.
8. جلالپوری، علی عباس، روح عصر، لاهور، تخلیقات، ۱۹٦۹، ص ۱۲۱۱-
9. ریالزم او ضد ریالزم، (ژباړنه، لطیف بهاند، ډاکټر) ،مخ۱۴۸
10. محمد اعظم، اعظم، پښتو افسانه، پېښور، جولائي ۱۹۷۲، ص ۱۱۲ ډاکټر
11. پروفېسر اسیر منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، ، پېښور،دانش خپرونديه ټولنه ، ۲۰۱۳، ص ۷۸
12. مخ۳ ډاکټر شېرزمان سیماب، ،امېل،پېښور،اعراف پرینټرز،۲۰۱۷،
13. هم دغه،مخ، ۳۲
14. هم دغه،مخ۴۰
15. هم دغه،مخ ۵۱
16. هم دغه،مخ۵۲
17. هم دغه،مخ۵۸
18. هم دغه،مخ۱۸
19. هم دغه،مخ۱۰
20. هم دغه،مخ۸